عبدالحی نیازی
۲۰۱۳/۰۳/۲۱

# پسرلیه راشه

## راشه پسرلیه په ربنتیا راشه !



پسرلیه راشه ،
راشه پسرلیه په ربنتیا راشه !
وایه افغانانو ته نوی کال مو مبارک شه

پسرلیه راشه په رېښتیا راشه ! یو ځل په لور د لر او بر پښتونخوا راشه، تاندي کړه ملی هیلي، بیا دې ارغند، اباسین او آمو په مستېدو راوړه، وشینده د ښایست او ښکلا ګلان، وشینده د غاټول ګلان، راشه پسرلیه وشینده ګلالي رنګونه، زرغون کړه سم او غر، راوړه، د پښتونخوا په دا دنګو دنګو غرونو کې د سولې د مینې، د یوالي د مستی سندره راوړه،
پسرلیه ! کنه نو مه راځه د پردیو واکدارانو سره ، د بمونو د ګولیو د (ډرونو) ګوځارنو او ځانمرګو کتارونو سره مه راځه،
خوراشه پسرلیه !
په خیر د لیلا راشه نه لکه تیرو کلونو په شان د بلا راشه،
پسرلیه ! دا پسرلی بیا زموږ په خاوره کې مکړه ښکر په ښکر غلیمانو سره،
خو راشه پسرلیه راشه نوی کال دی ووایه افغانانو ته نوی کال مو مبارک شه،
بختور او سوکال دې نوی کال شه،
پسرلیه ! یو ځل ښه غورځنګ شه په مستی شه په غره د پښتونخوا کې د ژوندون سندره راوړه ، دا د سولې د یوالي دغو تږو ته له وریځو د سولې د یوالي د مینې بارانی سندره راوړه.
زموږ ولس ناست د غم د غره دپاځه خو تا ته ګوری په مینه مینه،
پسرلیه یو ځل ښه په موسکا شه چي افغانان درته موسکا شي د مینې په تمنا شي،
پسرلیه! یو ځل لوی افغانستان ته هم ور پیښ شه ویښ کانده را بیدار کړه ملی احساس د سولې د یوالي د ملی پیوستون احساس.

افغانانو مبارک او بختور مو نوی کال شه!
په پښتني درنښت. عبدالحی نیازی

اول حمل ۱۳۹۲ شمسی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ